# د رحم د غاړې په
# اړه د معاينې معلوماتي پاڼه

## د رحم د غاړې د معاينې ازموينه څه ته وايي؟

د رحم د غاړې د معاينې ازموينه ستاسو د رحم د غاړې د روغتيا معاينه کوي. د رحم غاړه هغه لار ده چې له مهبل (واژن) څخه ستاسې رحم ته ځي. د رحم د غاړې معاينه (Cervical screening) ستاسو د ځان ساتنې يو له غوره لارو څخه ده چې د رحم د غاړې له سرطان څخه مخنيوی وشي.

دا د سرطان معاينه نه ده. دا يوه معاينه ده چې کولای شي د سرطان د پراختيا **مخه ونيسي**.

دا د رحم د غاړې د سرطان څخه د ځان ساتلو لپاره يوه له غوره لارو څخه ده، نو هر کله چې وي د رحم د غاړې په معاينه کولو کې ځنډ مه کوئ.

## د رحم د غاړې HPV معاينې ازموينه څه ته وايي؟

دا د رحم د غاړې د معاينې يوه **نوې** طريقه ده. دې ته د HPV رحم د غاړې معاينه وايي، او په 2020 کال کې په ايرلنډ کې معرفي شوه. دغه ډول معاينه لا دمخه په آسټراليا، هالنډ، انګلستان او ويلز کې هم معرفي شوې ده. ستاسې د رحم د غاړې د معاينې نمونه لومړی د انساني پيپيلوما ويروس (HPV) - لپاره معاينه کېږي هغه ويروس چې کولای شي د رحم د غاړې سرطان رامنځ ته کړي.

که HPV وموندل شي، نو هماغه نمونه بيا معاينه کېږي ترڅو معلومه کړي چې آيا ستاسو په رحم کې کوم غير معمولي (مخکې له سرطان څخه) حجروي بدلونونه شتون لري که نه.

دغه ډول معاينه:

- د رحم د غاړې د معاينې لپاره يوه غوره لاره ده
- د نورو سرطانونو مخنيوی کوي.
- پدې مانا چې ځينې خلک به لږ معاينات ولري

که تاسې مخکې د سميئر معاينه کړې وي، نو د رحم د غاړې معاينه به همغې ته ورته احساس ولري.

## د HPV د رحم د غاړې معاينه څنګه ترسره کيږي؟

د معاينې ازموينه معمولاً شاوخوا 5 دقيقې وخت نيسي.

1. له تاسو څخه به وغوښتل شي چې له ملا څخه ښکته جامې وباسئ او په صوفه يا تخت وغزېږئ.
2. تاسې کولای شئ په اړخ يا په ملا څملی، هر قسم چې ستاسې لپاره ډېر راحت وي.
3. ډاکټر يا نرسه به په آرامه توګه يوه وسيله چې سپيکولم ورته وايي، ستاسې په مهبل کې دننه کړي. دا وسيله د مهبل ديوالونه خلاصوي، ترڅو هغوی وکولای شي ستاسې د رحم غاړه ووينې.
4. يو وړوکی، نرم بورس به په آرامه توګه د رحم د غاړې څخه د حجرو نمونه راټوله کړي.

ځينې کسان دا کړنه ناارامه يا شرمونکي ګڼي، خو د ډيرو لپاره دا دردناکه نه وي. که چيرې تاسو ته دا معاينه درد ورکوونکې وي، نو ډاکټر يا نرسې ته وواياست، ځکه چې ممکن هغوی ستاسو ناراحتي را کمه کړي.

## د رحم د غاړې معاينه څه ګټې لري؟

د رحم د غاړې د HPV منظمه معاينه:

- ژوند ژغوري
- مخکې له دې چې په رحم کې د غير معمولي حجرو لامل شي HPV موندلی شي
- د نښو نښانو له رامينځته کېدو دمخه د حجرو غير معمولي بدلونونه موندلی شي
- کولای شي د حجراتو غيرعادي بدلونونه هغه وخت ومومي چې درملنه يې اسانه وي.

د HPV او غيرعادي حجرو وختي موندل د رحم د غاړې د سرطان د رامنځته کېدو د مخنيوي غوره لار ده.

له همدې امله منظمه معاينه يا ازموينه ډېره مهمه ده.

## د رحم د غاړې د معاينې محدوديتونه څه دي؟

د رحم د غاړې د معاينې اصلي محدوديتونه په لاندې ډول دي:

- د رحم د غاړې معاينه د رحم د غاړې د سرطان له ټولو پېښو څخه مخنيوی نه شي کولای
- ځينې کسان به، سره له دې چې منظمه معاينه کوي، بيا هم د رحم د غاړې په سرطان اخته شي.
- د حجرو ځينې غير معمولي بدلونونه ممکن له لاسه ورکړل شي.
- معاينه به د حجراتو هر غيرعادي بدلون ونه مومي.
- کله ناکله د معاينې پايلې سمې نه وي.

## زما له نمونې سره څه کيږي؟

ستاسو نمونه به د کيفيت ډاډمن لابراتوار (lab) ته واستول شي. ستاسې نمونه به په لابراتوار کې وڅيړل شي ترڅو معلومه شي چې آيا تاسو د HPV فعال انتان لرئ که نه. که چېرې د HPV فعال انتان ولرئ، نو دوه متخصصين به ستاسو نمونه د حجرو د بدلونونو لپاره وڅيړي. که هغوی کوم بدلونونه ومونډل، نو تاسې ته به د تعقيبي معاينې لپاره کولپوسکوپي توصيه شي. کولپوسکوپي د رحم د غاړې يوه ډېره تفصيلي معاينه ده.

## ولې د حجرو ځينې غير معمولي بدلونونه له پامه غورځول کيږي؟

ستاسې نمونه به لومړی د HPV لپاره وڅېړل شي. که چيرې HPV وموندل شي، نو دا به د غير معمولي حجرو لپاره هم معاينه شي.

خو په هر چا کې چې د رحم د غاړې سرطان رامنځ ته کيږي، په معاينې کې به يې د HPV ويروس ونه موندل شي.

د HPV منفي معاينه - هغه معاينه چې HPV پکې ونه موندل شي - دا پدې مانه هم ندي چې تاسو به په راتلونکي کې انتان ونلرئ.

ځينې وختونه د حجراتو غيرعادي بدلونونه له لاسه ورکول کيږي ځکه چې:

- ځينې وختونه غيرعادي حجرې د عادي حجرو سره ورته ښکاري.
- په نمونه کې ښايي ډېر لږ غيرعادي حجرې وي.
- هغه کس چې ستاسې نمونه ګوري ممکن غيرعادي حجرې له پامه وغورځوي (دا کله نا کله پيښيږي، هرڅومره چې تجربه لرونکی وي).

هيڅ ازموينه په هيڅ معايناتي برنامه کې نه شي کولی چې هريو کس ومومي چې د رحم د غاړې غيرعادي حجرې لري.

د رحم د سرطان پراختيا ډيری کلونه وخت نيسي. په ډيری مواردو کې، د حجرو لپاره له 10 څخه تر 15 کلونو پورې وخت نيسي ترڅو له عادي څخه غير معمولي سرطان ته لاړ شي.

همدا وجه ده چې تل بايد د خپل رحم د غاړې د معاينې ازموينې لپاره په ټاکلي وخت ولاړ شئ.

CS/PUB/CC-81 REV 1

# د رحم د غاړې په
# اړه د معاینې معلوماتي پاڼه

## زه به څنګه د خپلو معایناتو پایلې ترلاسه کړم؟

ستاسو پایلې به تاسو ته د پوست له لارې درواستول شي، معمولا د ازموینې څخه وروسته په 4 اونیو کې. دا به ستاسې عمومي ډاکټر (GP) یا کلینیک ته هم واستول شي.

## زما د معاینې پایلې څه معنی لري؟

څلور ممکنه پایلې شتون لري.

**1. HPV ونه موندل شو**

ستاسو پایلې ښیي چې تاسو دا مهال د HPV انتان نلرئ. ستاسو د عمر پورې اړوند، ستاسو د رحم د غاړې د معاینې بله ازموینه به په 3 یا 5 کلونو کې وي.

**2. HPV وموندل شو، خو غیرعادي حجرې ونه موندل**

شوې ستاسې پایلې ښیي چې تاسې د HPV انتان لرئ، **خو** په حجرو کې کوم غیرعادي بدلون ونه موندل شو. تاسې باید په 12 میاشتو کې بیا معاینه وکړئ. دا وخت به ستاسې بدن ته فرصت ورکړي چې د HPV انتان له منځه یوسي.

**3. HPV وموندل شو او د غیرعادي حجرو بدلون هم وموندل شو**

ستاسو پایلې ښیي چې تاسو د HPV انتان لرئ او ستاسو په رحم کې غیر معمولي حجروي بدلونونه لرئ. تاسو د کولپوسکوپي په نوم تعقیبي معاینې ته اړتیا لرئ - ستاسو د رحم د غاړې ډېره تفصیلي کتنه. دا د رحم د غاړې معاینې سره ورته دی.

**4. نمونه کمه ده**

دا معنی لري چې لابراتوار ونشوای کولای ستاسې د معاینې نمونه پروسس کړي. تاسې به غوښتنه وشي چې د درې میاشتو وروسته خپله د رحم د غاړې معاینه بیا تکرار کړئ.

## ستاسو رضایت ورکول

هر ځل چې تاسې د رحم د غاړې د معاینې ازموینه کوئ، موږ به له تاسو څخه وغواړو چې د ازموینې مخکې د رحم د غاړې د معاینې فورمه لاسلیک کړئ ترڅو خپل رضایت څرګند کړئ. که تاسو ونه شئ کولی چې فورمه لاسلیک کړئ، نو له تاسو به وغوښتل شي چې خپل رضایت یا خو په شفاهي ډول ورکړئ، یا د ډاکټر یا نرس په حضور کې پر فورمه یو نښنه کړئ.

دا د دې تائید لپاره ده چې تاسو:

- تاسو ته د رحم د غاړې د معاینې، د هغې د ګټو او محدودیتونو په اړه معلومات درکړل شوي دي.
- دا معلومات درک کړئ
- تاسو خپل نوم، پته او نور جزئیات تایید کړي دي (دا موږ سره مرسته کوي چې ډاډ ترلاسه کړو چې ستاسو اوسنی پته مو سمه ترلاسه کړی، ترڅو له تاسو سره اړیکه ونیسو).
- تاسو موږ ته اجازه راکوئ چې ستاسې شخصي معلومات او د معاینې سابقه ترلاسه، ویې ساتو او له هغو کسانو سره یې شریکه کړو چې د HPV د رحم د غاړې د معاینې پروګرام ترسره کوي.

**په یاد ولرئ:** یوازې تاسو کولی شئ چې زموږ د پروګرام برخه کیدو لپاره خپل رضایت ورکړئ. تاسو باید د معاینې د ترسره کېدو دمخه رضایت ورکړئ. تاسو کولی شئ په هر وخت کې زموږ د وړیا تلیفون شمېرې **1800 45 45 55** یا **info@cervicalcheck.ie** بریښنالیک له لارې له موږ سره اړیکه ونیسئ او خپل رضایت بیرته واخلئ.

دا پدې مانا ده چې موږ به په راتلونکي کې د رحم د غاړې د معاینې پروګرام په اړه له تاسو سره اړیکه و نه نیسو.

## موږ ستاسو شخصي معلومات څنګه کاروو؟

CervicalCheck ستاسې شخصي معلومات (نوم، پته، د اړیکې شمېره، د زیږون نېټه، PPSN، د زیږون پر وخت تخلص، او د مور د واده مخکې نوم) راټولوي او په خوندي ډول یې ساتي. ستاسې د رحم د غاړې د معاینې تاریخچه په CervicalCheck پروګرام کې ستاسو د ګډون پورې تړاو لري.

دا معلومات کولی شي د HPV د رحم د غاړې د معاینې پایلې، د کولپوسکوپی ګډون، درملنې، او د بیوپسي (د نمونې معاینې) پایلې هم شاملې وي.

موږ به ستاسې معلومات وکاروو ترڅو له تاسو سره اړیکه ونیسو کله چې ستاسې بله د معاینې ازموینه رارسېږي یا کله چې ستاسې پایلې چمتو شي. همداراز، موږ ستاسې معلومات له هغو نورو روغتیایي خدمتونو سره شریکوو چې دا پروګرام وړاندې کوي. پدې کې هغه ډاکټر یا نرس چې ستاسې د معاینې ازموینه ترسره کوي، لابراتوار، د کولپوسکوپی کلینیکونه، او د آیرلنډ د سرطان د ثبت ملي اداره (National Cancer Registry Ireland) چې د خدماتو کیفیت ساتلو او ښه کولو لپاره دي، شامل دي.

موږ ممکن ستاسې د معاینې نمونه د تدریس، بیاکتنو، ارزونو، او د پروګرام د کیفیت او مؤثریت د ارزونې لپاره وکاروو. همداراز، موږ ممکن ستاسې معلومات وکاروو ترڅو تاسو ته په څېړنو (تحقیقاتو) کې د ګډون لپاره بلنه درکړو.

دا ستاسې خپله خوښه ده چې غواړئ د معاینې پروګرام کې برخه واخلئ که نه. موږ به هیڅکله هم ستاسو نوم په کوم راپور، د تدریس په وخت یا په بیاکتنو کې ونه کاروو. موږ به ستاسې شخصي معلومات د اوسنیو د معلوماتو د ساتنې د مقرراتو له مخې په خوندي، محفوظ او محرم ډول وساتو.

تاسو به د غوښتنې په صورت کې د CervicaiCheck لخوا ساتل شوي ستاسو شخصي معلوماتو ته بشپړ او خلاص لاسرسی ولرئ. دا مهمه ده که چېرې ستاسو توضیحات بدل شي تاسو باید CervicaiCheck ته خبر ورکړئ. خپلو سوابقو ته د لاسرسي موندلو څرنګوالي لپاره، له **hse.ie/gdpr/data-requests/** لینک څخه لیدنه وکړئ.

د نورو معلوماتو لپاره د HSE د محرمیت خبرتیا - ناروغان او د خدماتو کاروونکي په **hse.ie/gdpr/** لینک کې وګورئ.

## له تاسو سره اړیکه نیول

موږ به له تاسو سره په آزاد، صادقانه، پر وخت او شفاف ډول اړیکه ونیسو که چیرې:

- ستاسو په پاملرنه کې څه تېروتنه وشي
- تاسو د خپلې پاملرنې په پایله کې زیان تجربه کوئ
- موږ فکر کوو چې ممکن زیان پیښ شوی وي

دا پدې مانا ده چې موږ به تاسو ته د رحم د غاړې د معاینې پروګرام کې ستاسو د ګډون په اړه د حقایقو او توضیحاتو څخه په بشپړ ډول خبر درکړو.

کله چې موږ ستاسې پایلې ترلاسه کړو، نو هغه به تاسو ته ولیږو، او له دې سره به نور معلومات هم درکړو چې پایلې څه معنی لري. تاسو کولی شئ په **hse.ie/cervicalcheck** لینک کې نور معلومات هم ومومئ.

# د رحم د خولې د معاینې فورمه

د ویال نمبر:

**نیمګړې فورمې ممکن بېرته واستول شي.**
مهرباني وکړئ له مراجعينو سره تصديق کړئ چې په فورمه کې ټول جزييات سم دي.
کله چې دا تصديق شي، د سمپل يا نمونې له ويال څخه د ويال نمبر ليبل لرې کړئ او په فورمه يې ونښلوئ.

## د متقاضي جزییات

د شخصي عامه خدمتونو نمبر (نمبر / توري)

CSP ID

د روغتون نوم (که اړونده وي)

د زيږون نېټه (ورځ / مياشت / کال)

تخلص — مهرباني وکړئ په لويو تورو يې وليکئ

نوم

منځنی نوم

د زيږون پر وخت تخلص

د مور د واده نه مخکې نوم

بشپړه پستي پته (نتيجې به دې پتې ته واستول شي)

اير کوډ:

د اړيکې د ټليفون شمېره

## د قراردادي ډاکټر يا کلينيک معلومات

د طبي شورا ثبت
د قراردادي ډاکټرانو شمېر:

**يا**

د کلينيک کوډ
(ONC يا CLIN COLP GYN PPCC STI)

د قراردادي ډاکټر يا کلينيک
نوم

پته:

د ټليفون شمېره

## د سمپل يا نمونې اخيستونکي جزييات

NMBI يا MCRN

د سمپل يا نمونې اخيستونکي نوم:

## د رحم د خولې يا غاړې د معاينې د ټست معلومات

د ټست نېټه (Year / Month / Day)

**د سمپل اخيستو مرکز**

☐ د رحم خوله يا غاړه ☐ والوت (Vault – تر بشپړ رحم ايستنې (hysterectomy) وروسته)

که چېرې د رحم غاړه موجوده وي، نو د نمونې اخيستونکی بايد د رحم غاړه په بشپړه توګه وڅاري او په سمه توګه يې نمونه واخلي، چې دا کار بايد د برس/بروم په وسيله د 360°x5 درجې تاوېدو په ډول ترسره شي. د نمونې سپارل دا تاييدوي چې دا کار شوی دی.

## اړوند کلينيکي معلومات

LMP (Year / Month / Day)

☐ HRT/هورمونونه/OCP
☐ IUCD
☐ د حيض تر بندېدو وروسته
☐ تر پيوند يا ترانسپلنټ مخکې او وروسته
☐ ډياليسيس (Dialysis)
☐ HIV مثبت
☐ له جنسي مقاربې وروسته وينه بهېدل
☐ د حيض تر بندېدو وروسته وينه بهېدل
☐ نيمه رحم ايستل (Sub-total Hysterectomy)
☐ بشپړ رحم ايستل (Total Hysterectomy)

## منځپانګه

زه تاييدوم چې پورته ټول زما شخصي معلومات سم دي.
ما راکړل شوي معلومات ولوستل او بنه مې درک کړل.
زه په CervicalCheck کې له برخې اخيستو سره رضايت بښيم.

د متقاضي لاسليک: ______________________________

CervicalCheck د متقاضيانو يا مراجعينو لپاره د درېيم شخص رضايت نه مني، مګر دا چې د کورنی کوم غړی يا پالونکی ځانګړی قانوني صلاحيت ولري.

## د معاينې او درملنې تاريخچه

## يوازې د لابراتوار د کارونې لپاره

په لابراتوار کې د ترلاسه کېدو نېټه (ورځ / مياشت / کال)

د ثبت شمېره

1°

2°

TZ حجرې ☐ هو ☐ نه

(Path) پت

د مديريت سپارښتنه

د راپور ورکولو نېټه

لاسليک

CS/PUB/CC-81 Rev 1